# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د وږي لسمه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر لومړۍ | ۴۲۳مه ګڼه


# د سولې خبرې او جګړه؛

## کندوز ښار د درېیم ځل لپاره د وحشتناکې جګړې شاهد دی



۳

### کندوز؛ د حکومت د ماتو شوو ژمنو تصویر

۲ مخ

### د خپلواکۍ سلیزه؛ لنډه کتنه!

۲ مخ

### امریکا ته افغان جګړه په څومره بیه تمامه شوه؟

۳ مخ

## پوهنتون

۴ مخ

### پیشګام د لوړو زده کړو موسسه

د دغه موسسې رییس وایي، ۷۵ سلنه استادان یې د دوکتورا او ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او پاتې نور یې لیسانس دي، چې د تدریس په برخه کې کافي تجربه لري او محصلین یې له تدریس څخه خوښ دي.





### په پکتیکا کې د ۱۴ میلیونو افغانیو په لګښت کانال جوړېږي



د پکتیکا په مرکز ښرنه کې د ۱۴ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه کانال د جوړېدو چارې پیل شوې. د دغه ولایت د چارواکو په خبره، یاده پروژه له طبیعي پېښو سره د مبارزې او کرنې ریاست له لوري پیشنهاد شوې، چې د مرکز ښرنې په کشیوالو کلي کې جوړېږي او شاوخوا ۹۵۰ متره اوږدوالی لري، چې چارې به یې په څلورو میاشتو کې پای ته ورسېږي.

د کشیوالو کلي د پراختیایي شورا مشر نیازالله مشفق رسنیو ته ویلي، چې له سېلابونو سخت په تنګ شوي او ډېرې وخت د دوی ځمکې او کورونه ویجاړوي.

د هغه په خبره، یوه میاشت وړاندې هم د کشیوالو کلي لسګونه جریبه ځمکه سېلابونو ویجاړه کړې وه، چې له امله یې خلک سخت زیانمن شوي وو.

دوی وایي، د دغه کانال په جوړېدو سره به یې یاده ستونزه تر ډېره حل شي.

### د ملي دفاع وزارت ویاند ځینو خبریالانو ته توهین کړی دی

د ملي دفاع وزارت ویاند د ځینو خبریالانو پر وړاندې له سپکاوي ډک چلند کړی دی.

د دغه وزارت د ویاند په خبري کنفرانس کې د کندوز د وضعیت په تړاو د ځینو خبریالانو پوښتنې د ویاند له جدي غبرګون سره مخ شوې او هلته ناستو خبریالانو ته یې د کښو او ړاندو خطاب کړی دی.

که څه هم نوموړي له خپلو دغو خبرو ښښنه غوښتې، خو خبریالان د دې مسئلې د جدي پلټنې غوښتنه کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملي یووالي حکومت د بیان ازادي له مهمو لاسته راوړنو یادوي، خو د حکومتي چارواکو او مامورینو له لوري د خبریالانو پروړاندې له خشونت څخه د ډک چلند پېښې نړدې هره ورځ تکرارېږي.

تازه د ملي دفاع وزارت ویاند روح الله احمدزي په یوه خبري کنفرانس کې د کندوز د وضعیت په اړه د یوه خبریال د پوښتنې په اړه جدي غبرګون ښودلی او خبریالانو ته له سپکاوي ډکې څرګندونې یې کړې دي.

د نوموړي دغه څرګندونې په خبري کنفرانس کې د خبریالانو له جدي غبرګون سره مخ شوې دي. که څه هم د ملي دفاع وزارت د خپلو دغو څرګندونو په اړه له ټولو خبریالانو ښښنه غوښتې، خو افغان خبریالان د دې پېښې د جدي پلټنې غوښتنه کوي. بلخوا د نوموړي له لوري د افغان خبریالانو پر وړاندې دغه چلن د رسنیو ملاتړو ادارو او د خبریالانو له حقونو د مدافع بنسټونو له جدي نیوکو سره مخ شوی او د دې پېښې د څېړنې غوښتنه یې کړې ده.

### له امریکا سره د هوکړې متن وروستی شوی او د اجرا پر څرنګوالي یې خبرې رواني دي



۵ مخ

### جان بولتون مشاور امنیت ملی ترمپ در مسئله صلح افغانستان به حاشیه رانده شده‌است



واشنگتن پُست در یک گزارش می گوید که جان بولتون، مشاور امنیت ملی دونالد ترمپ در مسئله صلح افغانستان به حاشیه رانده شده‌است. این روزنامهٔ امریکایی، می‌نویسند که نام جان بولتون در فهرست نخستین شرکت کننده‌گان یک نشست امنیتی اخیر در امریکا که با حضور رئیس‌جمهور دونالد ترمپ، معاونش مایک پنس، وزیر دفاع، رئیس سی آی ای، لوی درستیز امریکا و زلمی خلیل‌زاد برگزار شد وجود نداشت؛ اما با خواست یک دستیارش از قصر سفید، او توانست به این نشست راه یابد.

بر بنیاد این گزارش، جان بولتون بخاطری به این نشست دعوت نشده بود که مقام‌های امریکایی از افشای جزیات گفت‌وگوهای شان از سوی تیم او بیم داشتند.

اما بولتون این اتهام را رد کرده و گفته‌است که او و تیمش هیچگاهی، هیچ اطلاعاتی را به رسانه‌ها افشا نکرده‌اند. یک مقام دیگر قصر سفید نیز این اتهام را زیر پرسش برده‌است.

به نوشتهٔ این روزنامه، جان بولتون که خواهان حضور نظامی امریکا در جهان بوده‌است، به یک مخالف داخلی توافق‌نامهٔ احتمالی ایالات متحده با طالبان مبدل شده‌است.

مقام‌های امریکایی که نخواسته‌اند نام‌های شان گرفته شوند به واشنگتن پُست گفته‌اند که باری، جان بولتون خواهان به دست آوردن یک نسخه پیش‌نویس توافق‌نامه‌یی شده بود که امریکا می‌خواهد با طالبان امضا کند؛ اما زلمی خلیل‌زاد، نمایندهٔ ویژهٔ ایالات متحده برای صلح افغانستان این درخواست را رد کرده بود و گفته بود که بولتون می‌تواند در حضور یک مقام بلندپایه، این پیش‌نویس را بخواند ولی اما نمی‌تواند آن را کاپی کند.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Shigal English Academy

شیګل انګلیش اکاډمي

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـــځ

### کندوز؛ د حکومت د ماتو شوو ژمنو تصویر

وړمه شپه طالبانو یو ځل بیا د کندوز ښار د نیولو هڅه وکړه. طالبانو د ښار څنډې ونیولې، خو ټول ښار یې لاندې نه شو کړلی. پرون ټوله ورځ جگړه وه او وېره ده چې دا جگړه به دوام وکړي. په دغه جگړه کې د دواړو اړخونو تر څنگ ملکي وگړو ته هم مرگ ژوبله اوښتې ده، خو کره شمېره یې معلومه نه ده. تر دې وړاندې هم طالبانو څو ځله کندوز ښار گواښلی و او دوه ځله توانېدلي وو چې ټول ښار ونیسي. د ۲۰۱۵ ز کال په اکټوبر کې طالبان وتوانېدل چې دا ښار ونیسي. دا د طالبانو په ۱۴ کلنه جگړه کې لومړی ځل و چې دوی د یوه ولایت مرکز نیسي. که څه هم طالبانو ښار ونه شو ساتلی، خو څو ورځې یې په کنټرول کې و او داسې ښودل کېدله چې دا د طالبانو ستره بریا ده. له دې پېښې وروسته یو ځل بیا طالبانو د ۲۰۱۶ ز کال په اکټوبر کې پر کندوز ښار برید وکړ او لویه برخه یې ونیوله.

حکومت له دغو دواړو پېښو وروسته د عامه ذهنیت تر فشار لاندې و. حکومتي مشرانو او ویندویانو بیا بیا په کندوز کې د بدلونونو، اصلاحاتو او پرمختگونو خبره وکړه، خو دا دی کندوز لا هم له گواښ سره مخ دی. ولسمشر غني کندوز ته ولاړ او هلته یې نه یوازې په امنیتي سکټور کې د پراخو اصلاحاتو ژمنې وکړې، بلکې ویې ویل چې ملکي حکومت ته به هم پام کوي، نوي اداري جوړښتونه به رامنځ ته کوي، د بیارغونې پروژې به عملي کوي او کندوز به د منځنۍ اسیا پر څلور لارې بدلوي.

دا دی نه یوازې په کندوز کې د پام وړ کار ونه شو او هغه ژمنې عملي نه شوې، بلکې کندوز لا هم له گواښ سره مخ دی. اوس که چارواکي وایي چې طالبان یې په شا تمبولي او وژلي یې دي، دا د کندوزیانو ستونزه نه شي حل کولی. کله چې طالبان پر ښار برید وکړي، د ښار یوه برخه ونیسي، آن مرکزي روغتون ته را ورسیږي، د پولیسو او اردو د تسلیمۍ ویډیوگانې خپرې کړي، په ښار کې وېره خپره کړي، خلک له ښاره په تېښته شي، ښار بند شي، لویې لارې وتړل شي او خلکو ته مالي او ځاني زیانونه واوړي، نو بیا د طالبانو ماتول، په شا تمبول او نورې لویې خبرې هېڅ مانا نه لري. له بده مرغه چې حکومت لا هم د کمزوري مدیریت او د امنیتي ځواکونو په رهبرۍ کې د ستونزو له امله کندوز له ستونزو سره مخ کړی او نه دي توانېدلي چې دا ښار خوندي کړي.

له بله اړخه طالبان هم باید پوه شي چې د سولې د خبرو په منځ کې پر ښارونو برید، د خلکو وېرول، وژل، ټپي کول، ځورول، مالي او ځاني زیان ور اړول، نه د سولې په گټه دي او نه هم خپله د طالبانو په گټه دي. پر ښارونو برید او په کوځو او ښار کې جگړه کټ مټ هغسې ده، لکه گډ ځواکونه چې د شپې پر کلیو ورکوزېږي، وحشت خپروي، خلک وژني او ورانی کوي. له همدې امله پکار ده چې په سوله کې د حسن نیت په پار له دغه ډول بریدونو څخه ډډه وشي.

# د خپلواکۍ سلیزه؛ لنډه کتنه!

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

هغه جگړه چې امیر حبیب الله خان ونه کړه، محافظه کاري یې وکړه، همغه جگړه غازي امان الله خان په خپل انداز کې وکړه، هغه مهال چې انگلیس په هند کې و او ایران کې یې هم لښکرې گرځېدې، د غزا ناره پکې درنه ناره وه، غازي چې انگلیس ته د ۱۹۰۵ ز کال د تړون د بیاکتنې لیک ولېږه، منتظر پاتې نه شو او سملاسي یې ازادي اعلان کړه.

که تاسو له انگلیس سره د افغان ځواکونو زور او ځواک پرتله کړی، نو له انگلیس سره جنگ یوازې د افغانانو سرزوري گڼلی شي. یوه لویه امپراتوري چې په اروپا کې یې المان، اتریش او عثماني ترکیې ته ماتې ورکړې وه، څرنگه پرې د غازي امان الله خان لښکرې غورځېږي، دا تعجب دی.

دا جگړه له هره پلوه بې انډوله وه، په هر محاذ کې د انگلیس او هند ځواکونو او وسلو شمېر په کراتو زیات و، هغوی منظمه اردو درلوده او هغوی تربیه شوي نظامیان وو او هغوی د اعاشې او اکمال له نظره په ډېر لوړ حالت کې وو، خو افغان پوځونه چې ټول شمېر یې تر ٦۰ زرو رسېده ډېر نامنظم و، خواړه او پوښاک یې غریبانه او پر خپل ځان وو، د وسلو او اکمال حالت یې ډېر خوار و او دوی اصلاً د انگلیس له پوځ سره په دغه حساب نه شوای جنگېدلی، یوازې په دې جگړه کې نه؛ بلکې په لومړۍ او دویمه جگړه کې هم افغانان دغسې تش لاسي وو او ډک لاسي یرغلگر یې په مخ او څټ وهل. تاسو که د افغان انگلیس په دویمه جگړه کې د انگلیس لښکرې له بولانه تر کابله تعقیب کړی، نو تاریخ به تاسو ته په دغه ټوله لاره د انگلیس د لښکرو لوځې هدیرې در وښیي، تاسو به په کابل کې متجاوزین ډېر بې وسه، اړ او محاصره ووینی، خو دا هر څه افغانان په خپل همت او سرزورۍ کوي، د نړۍ کوم ځواک هم نشته چې وسلې ورکړي، روزنه ورکړي او حمایه یې کړي او دا زمونږ د تاریخ را پاتې تسلسل دی، دا مونږ ته راښیي چې افغانان په تشو لاسونو لوی ځواکونه څنگه پرزوي.

**د غازي لویې لاسته راوړنې!**

د غازي امان الله خان تر ټولو لویه لاسته راوړنه د هېواد ازادي وه، د ازادۍ له نعمت او ارزښت سره بل هیڅ ارزښت سیالي نه شي کولای.

غازي د سوداگرۍ، اقتصاد، تعلیم، فرهنگ، اداري، نظامي او هوایي ځواک، لارو او مواصلاتو، ښار جوړونې او بېلابېلو برخو کې ډېرې زیاتې لاسته راوړنې درلودلې، غازي د افغانستان لپاره د ترقۍ ډېر لوی خوبونه لیدل او هغه چې په کوم شوق او ملي جذبه دي خوب ته کار کاوه، دا د افغانستان په تاریخ کې ساری نه لري.

په اقتصادي برخه کې پر شرکتونو او فابریکو کار وشو، د اورگاډي پټلۍ پیل شوې، په پام کې وه چې د هېواد جنوب له شمال سره د اورگاډي په پټلۍ ونښلول شي، د برق سټېشنونه جوړ شول او برېښنا یې فابریکو ته ورکړل شوه. د اوبو څو بندونه جوړ شول، لکه د غازي بند او د غزني سراج بند. د الوتکو او موټرو د ترمیم او پرزې جوړولو فابریکې جوړې شوې، د نساجۍ فابریکه جوړه شوه. د دې لپاره چې ولایتونه له مرکز سره ونښلول شي، نو د ټلیفون او تلگرام پر پروسې کار پیل شو.

په تعلیمي ډگر کې په حبیبیه او امانیه لېسو کې فرانسوي او الماني ښوونکیو تدریس کاوه، په ټول افغانستان کې ۳۲۲ لومړني ښوونځي جوړ شول او تر ۱۹۲۷ ز کال پورې ټول ۵۱ زره شاگردان پر زده کړو بوخت وو. په مسلکي لېسو کې ۳۰۰۰ زده کوونکي موجود وو. څو سوه زده کوونکي د زده کړو لپاره ترکیې، جرمني، فرانسې، ایټالیې او شوروي ته ولېږل شول. معارف ته لویه بودیجه په پام کې ونیول شوه چې د دفاع او دربار تر بودیجې وروسته، دریمه لویه بودیجه یې تشکیلوله. طب ښوونځی جوړ شو او په پایتخت کې لوی کتابتون ایجاد شو.

په فرهنگي برخه کې په کابل او ولایتونو کې ۱۳ جریدې خپرېدې، په دوی کې ارشادالنسوان جریده، اتحاد مشرقي جریده، افغان ورځپاڼه، د تعلیم او تربیې مجله، امان افغان اونیزه، د پوځ مجله، اتفاق اسلام اونیزه، اتحاد جریده، د اعلاناتو لپاره ابلاغ جریده او حقیقت جریده شامل وو.

له دې سره په څنگ کې انیس ازاده اونیزه هم له چاپه راوتله، د دې اونیزې مسئول غلام محی الدین انیس و. نسیم سحر د احمد راتب خان په مشرۍ او نوروز ۱۵ ورځینی د میرزا محمد نوروز په مشرۍ خپرېدې.

د غازي په وخت کې لومړی ځل راډیو جوړه شوه او سینما ته کار وشو، اروابناد غلام محمد خان میمنه‌گي المان ته د لوړو زده کړو لپاره ولېږل شو او کله چې راستون شو، نو د رسامۍ ښوونځی یې پرانیست چې وروسته بیا د هېواد په کچه یو لوی هنري نوم شو.

د غازي په واکمنۍ کې اساسي قانون (نظامنامه) جوړ شو، لویې جرگې راوغوښتل شوې، شورای خاص یا د دولت شورا چې د پارلمان حیثیت یې درلود جوړ شو او ډېر قوانین تصویب شول.

د غازي په وخت کې افغانستان ۱۱ الوتکې درلودې او ٦۵ کسان یې د هوایي زده کړو لپاره ترکیې، فرانسې، ایټالیې او شوروي ته ولېږل. حربي فابریکه جوړه شوه او دافع هوا توپونه او زره پوش موټرې پوځ ته وارد شول. د سالنگ او پکتیا لویې لارې جوړې شوې او پر نورو لارو کار پیل شو. دارالامان ماڼۍ جوړه شوه، ملکي او نظامي روغتونونه جوړ شول، کابل ته د اکسرې ماشین راوړل شو او دارالمجانینونه او دارالایتامونه جوړ شول.

غازي دغه مهال ترکان، جرمنیان او فرانسویان د روغتیا، تعلیم، پوځ، تخنیک او لرغون پوهنې په برخه کې پر کار گومارلي وو.

**سلیقوي ریفورمونه!**

د غازي امان الله خان لومړۍ لویه تېروتنه دا وه چې هغه د شپږو میاشتو په اوږده سفر له هېواده بېرون په رسمي سفر ووت، له یوې خوا دلته دننه په هېواد کې د غازي مخالفینو ته د توطیو میدان خوشي شو او له بلې خوا په دې سفر کې غازي د اروپا د فرهنگ او رواج تر تاثیر لاندې راغی او ده چې هلته کوم رنگ اخیستی و، د دغه رنگ تصویرونه د ده تر را رسېدو مخکې په افغانستان کې حساسیتونه راپارولي وو.

دویمه لویه تېروتنه د خلکو له روایتونو او سنتونو سره د غازي ټکر و، تاسو فرض کړئ، که په ۲۰۱۹ ز کال کې په کابل ښار کې پولیس ودرېږي او د مېرمنو له سرونو څادرۍ په خنجکونو لرې کړي، دا به د هېواد په لرو بر کې څنگه غبرگون ولري؟ بیا همدا غبرگون په ۱۹۲۸ ز کال کې وسنجوئ، چې هغه مهال به د خلکو او روحانیونو غبرگون څه و؟ غازي امان الله خان په پغمان کې د خپلې مېرمنې له سره ټیکری لرې کړ او له خلکو یې وغوښتل چې خپلې مېرمنې د حجاب له قیده خلاصې کړي. دا هر څه د خلکو له روایتي او سنتي حالت سره په سخت ټکر کې وو.

په لویو غونډو کې خلک مجبورېدل چې کالي لرې کړي، پتلونونه واغوندي، شپو خولۍ پر سر کړي او امسا په لاس کې ونیسي، دوی ته ویل کېدل چې نور به د سلام پر ځای شپو خولۍ له سره ښکته کوئ او دا په داسې حال کې چې په افغانستان کې په دغه شمېر او دې اندازو پتلونونه، د درېشۍ او شپو خولۍ نه وې، دې هر څه نوي سلیقوي ریفورمونه مسخره کړي وو.

شاه د جمعې ورځې رخصتي پنجشنبې ته واړوله او په پوځ کې یې د ږیرې خرېیل جبري کړل، دې ټولو غازي د یوه داسې کس په توگه مشهوراوه، چې له دیني رموزو سره یې شخړه شروع کړې. د نکاح په اړه چې څلور ښځې یې منعه کړې وې، دا خورا حساسه مسئله وه، دا له دیني متونو سره ټکر و او په روحانیونو کې یې لوی بحث رامنځته کړی و.

**سلمه کلیزه ولې مهمه وه؟**

سږ کال چې د ازادۍ د گټلو سلمه کلیزه راغله، دا سلیزه زمونږ د نیکونو د سلو کلونو پخوانۍ تُورې نمانځنه ده، دا نمانځنه د دې لپاره ډېره مهمه ده چې مونږ د خپلواکۍ پر ارزښت پوه شو، دا د دې لپاره ده چې مونږ د خپلواکۍ مفاهیم، احساسات او جذبات د یو ملي امانت په توگه ژوندي او په نسلي بهیر کې یې په خوځون او دوران کې وساتو.

په دې گرمې سلیزې کې د دې یو لوی فرصت برابر شو، چې د خپلواکۍ پر تېرې مبارزې بېلابېل کتابونه او مقالې چاپ شي او فرهنگي مناسبتونه، گردي مېزونه او کنفرانسونه پرې دایر شي دا مجالونه داسې وو چې د یوې ملي بیدارۍ لپاره مهم او اساسي توکي وو.

د ازادۍ دغسې نمانځنه د دې لپاره هم مهمه وه، چې د هغو خلکو تاویلونو ته یو ډول ځواب شي، چې خپلواکي د اوسني عصر په غوښتنو او گلوبلایزېشن کې له سره تعریفوي. خپلواکي، خپلواکي وي او افغانانو چې د انگلیس تر درۍ ځلې ماتولو وروسته شوروي هم مات کړ او اوس امریکا هم د خبرو پر بستر د وتلو لار گوري، دا ټول په دې مانا چې د خپلواکۍ جوهري مانا زمونږ په وطن کې نه ده بدله شوې.

په کوم شان او اندازه چې د ازادۍ سلیزې ته پام وشو، د غازي د وخت ودانۍ ورغول شوې، د افغانستان شموله مراسمو تابیا ونیول شوه او فوق العاده اهتمام ورته وشو، دا نو زمونږ د تاریخ یوه معنوي رغونه وه او دا د هغه تېپې ورځې درملنه وه چې د تېرې نیمې پېړۍ جنگونو، لکه د دارالامان دا هم بې امانه ځپلې وه. د جنگونو په شر کې دغه له اعتباره غورځېدلی لوی ملي ارزښت ته د بیا باور ورکولو لپاره دا اړینه وه، چې دغسې شانداره ونمانځل شي. په دې حساب به دا شانداره اهتمام د تاریخ له حافظې هېر نه شي.

**د ازادۍ د نمانځنو تیت موردونه!**

د ملتونو په معاصر تاریخ کې څه نومونه داسې وي، چې هغوی پر ملي رمزونو اوښتي وي، غازي امان الله خان چې د خپلواکۍ او مترقي افغانستان له منظره په دې سیمه کې بې سیاله دی، هغه باید د دې کوچنیو سلیقو له منځه ډېر شانداره راووځي، هغه په دې حساب د افغانانو لپاره یو ملي رمز دی.

عموماً د ازادۍ په نمانځنو کې څه موردونه داسې دي چې ډېر پام ورته نه کېږي، یو څو یې په لاندې ډول یادوو:

لومړی؛ د غازي په اړه باید د اسلامي نړۍ د هغه مهال پیاوړو لیکوالانو، مؤرخینو او مفکرینو ارشیفونو ته مراجعه وشي، د هغوی په کتابونو کې په دې اړه ډېر څه شته. د بېلگې په توگه، د اسلامي نړۍ د هغه مهال د لوی مؤرخ او مفکر امیر شکیب ارسلان خاطرې، د امیر په اړه د علامه اقبال تحریر، د خان عبدالغفار خان لیکل، د خلافت تحریک د مشرانو خاطرې او دېته ورته نورې ډېرې سرچینې شته، چې په منځ کې یې د غازي یادونه نالوستې پراته دي.

دویم مورد دا دی چې د غازي امان الله خان د ژوند د بېلابېلو اړخونو په اړه د نوموړي د کورنۍ له غړیو او په ځانگړې ډول شهزادگۍ هندیه، شهزادگۍ ناجیه او نورو غړو سره باید تاریخي مرکې وشي.

درېیم مورد دا دی چې د ازادۍ جگړه د غازي په مشرۍ د ټول ملت جگړه وه او دې لپاره اړینه ده چې دغه جگړه افغان شموله وگڼل شي، په دې مانا چې په راتلونکې کې باید د ازادۍ د گټلو پر جامع او راټول تاریخ خبره وشي، د ازادۍ ټول کرکټرونه او شخصیتونه ژوندي وساتل شي او دا موضوع د ټول افغانستان گډه موضوع شي او دا هله کېږي چې نور قومونه د ازادۍ په جگړه کې خپل سهم ووینې.

څلورم مورد دا دی چې تر ډېرو او شانداره لاسته راوړنو وروسته، له بده مرغه هغه سلیقوي وروستني ریفورمونه چې غازي امان الله خان له اروپا راکاپي کړي وو، نه یې هغه مهال ملي منښته لرله او نه یې اوس څوک منلو ته تیار دي، د غازي هغه تېروتنې چې غازي د سلیقوي ریفورمونو په سلسله کې وکړې، هغه په احساساتي ډول نه، بلکې په تحقیقي او علمي بڼه تحلیل او تجزیه شي او د افراط او تفریط له چلنده راوویستل شي.

# امریکا ته افغان جګړه په څومره بیه تمامه شوه؟

بي بي سي- پښتو

د امريکا پوځ په افغانستان کې د طالبانو پرضد جګړه کې له ۲۰۰۱ ز کال راهيسې په ميلياردونو ډالر لګولي دي، خو که د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امريکا خبرې بريالۍ کېږي، ښايي په افغانستان کې ورسره د امريکايي پوځيانو حضور هم ختم شي.

افغان ولسمشر اشرف غني وايي، افغان جګړه د امريکا حکومت او ټولنې ته په پنځه سوه ميليارده ډالره تمامه شوې ده، خو پوښتنه دا ده چې دا شمېره څومره سمه ده او څنګه دومره لګښت شوی دی؟

امريکا د ۲۰۰۱ ز کال په اکتوبر کې پر افغانستان په دې دليل يرغل وکړ، چې طالبانو د القاعدې ډلې پخواني مشر اسامه بن لادن او لوړپوړو مشرانو ته چې د سپتمبر ۱۱ مې بريدونو باندې تورن دي، پنا ورکړې ده.

امريکا طالبان له واکه لرې کړل، خو دې ډلې په افغانستان کې د دوی پر وړاندې اوږدمهالې جګړه پيل کړه.

په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو د شمېر له ډېرېدو سره واشنګټن اړ شو، چې له طالبانو سره جګړې او بيارغونې ته په ميلياردونو ډالر ځانګړي کړي.

د امريکايي حکومت د شمېرو له مخې، د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ ز کلونو ترمنځ چې دغه هېواد په افغانستان کې تر يو لک ډېر سرتېري لرل، کلنی لګښت يې سل ميليارد ډالرو ته رسېد. خو امريکايي پوځ چې د عملياتو پر ځای د افغان پوځ پر روزلو بوخت شو، لګښت يې هم کم شو او د ۲۰۱٦ او ۲۰۱۸ ز کلونو ترمنځ يې لګښت هم تر ۴۰ ميليارد ډالرو ټيټ شو. د روان کال لګښت هم ۱۸ ميليارد ډالر اټکل شوی دی.

خو د امريکا دفاع وزارت وايي، دوی د ۲۰۰۱ ز کال له اکتوبر د ۲۰۱۹ ز کال تر مارچ پورې ۷٦۰ ميليارد ډالر لګولي دي او دا شمېر تر هغه ډېر دی، چې افغان حکومت يې وايي.

خو د امريکا د برن پوهنتون څېړنه وايي، په افغانستان کې د لګښت په هکله د امريکا رسمي شمېر له اصلي شمر ډېر کم ښودل شوی دی. په دې څېړنه کې ويل شوي، په دغو پيسو کې له جګړې د ستنو امريکايي پوځيانو لګښت، د جګړې اړوند نورو حکومتي ادارو کې لګېدلې پيسې او د جګړې لپاره د پور پيسو سود هم شامل نه دی.

دا څېړنه ښيي چې له نورو لګښتونو سره د جګړې ټول لګښت يو ټريليون ډالرو ته رسېږي.

**دا پيسې چېرته ولګول شوې؟**

د پيسو ډېره برخه د وسلوالو ضد عملياتو او د پوځيانو په خوړو، جامو، روغتيايي چارو، تنخوا او نورو شيانو لګول شوې ده.

چارواکي وايي، له دې پيسو ۱۳۳ ميليارد ډالر چې د ټول لګښت ۱٦ سلنه کېږي، په تېرو ۱۷ کلونو کې د افغانستان پر بيارغونه لګېدلې دي.

له دې پيسو بيا تر نيمايي ډېرې يا (۸۳ ميليارد ډالر) يې د افغان امنيتي ځواکونو پر جوړولو مصرف شوې دي.

پاتې پيسې هم تر ډېره د حکومتولۍ د ښه والي او بېخ- بنسټونو او همدارنګه اقتصادي او انساني مرستو او د نشه يي توکو ضد هڅو کې لګول شوې دي.

امريکا د ورځې ۱،۵ ميليونه يا له ۲۰۰۲ ز کال د دې کال تر جون نږدې ۹ ميليارد ډالر د نشه يي توکو پرضد هڅو کې لګولي دي، خو د ملګرو ملتونو شمېرې ښيي چې دا کرونده لا هم زياتېږي.

په ۲۰۱۷ ز کال کې د افغانستان د بيارغونې امريکايي څارونکو ويل، چې په تېرو ۱۱ کلونو کې د امريکا ۱۵،۵ ميليارد ډالر په اداري فساد کې ورک شوي دي.

دا پيسې ښايي د ضايع شويو پيسو يوه برخه وي، ويل کېږي چې د امريکا پيسو جګړه توده کړې، فساد يې رامنځته کړی او وسله والو ډلو ته يې د مرستې زمينه برابره کړې.

**انساني بيه يې څومره ده؟**

په ۲۰۰۱ ز کال کې د طالبانو ضد جګړې راهيسې په افغان جګړه کې د امريکا ۲۳۰۰ سرتېري وژل شوي او شل زره پنځه سوه سرتېري يې ټپي شوي دي.

د رسمي شمېرو له مخې، د ۲۰۱۸ ز کال تر جون پورې په افغانستان کې د امريکا څوارلس زره سرتېري وو، خو نورو ۱۱ زره ولسي امريکايانو هم د قرارداديانو په ډول کار کاوه. خو د امريکايانو مرګ ژوبله له افغان ځواکونو او ولس خورا کمه ده.

ولسمشر غني سږ کال وويل چې په ۲۰۱۴ ز کال کې د ده له واکمنېدو راهيسې، له ۴۵ زرو ډېر افغان سرتېري وژل شوي دي.

د غني څرګندونې ويښوونکې وې، ځکه امريکا او افغان حکومتونو تر ډېره د افغانانو د مرګ ژوبلې شمېره نه خپروله. خو بيا هم رپوټونه وايي، په وروستيو کلونو کې د افغان پوځ د مرګ ژوبلې شمېر خورا ډېر دی او د ورځې له ۳۰ تر ۴۰ اټکل شوی دی.

ملګري ملتونه وايي، په دې جګړه کې له ۳۲ زرو ډېر افغانان وژل شوي او تر ٦۰ زرو ټپي شوي او دا مرګ ژوبله له ۲۰۰۹ ز کال راهيسې په بې ساري ډول زياته شوې ده.

# د سولې خبرې او جګړې؛

## کندوز ښار د دریيم ځل لپاره د وحشتناکې جګړې شاهد دی



وسله والو طالبانو يو ځل بيا پر کندوز ښار بريدونه وکړل. طالبانو وړمه شپه ناوخته له څلورو خواوو پر کندوز ښار بريدونه پيل کړل او له امنيتي ځواکونو سره يې کلکه نښته وکړه. راپورونه وايي چې په پېښه کې دواړو لورو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې ده، خو وروستۍ شمېرې لا د جګړې د دوام له امله نه دي خپرې شوې. ملکي وګړي په کندوز کې تر سخت فشار لاندې دي، خو حکومت د دوی د امنيت د تامين ژمنه کړې ده.

سره له دې چې پر کندوز بريد نوې خبره نه ده، خو حکومت له تېرو تجربو ګټه وا نه خيسته او د کندوز ښاريان يو ځل بيا د خونړۍ جګړې شاهدان دي. کندوز چې په شمال کې ځانګړې ارزښت لري او مهم سوداګريز بندر په دغه ولايت کې دی، په دې وروستيو کلونو کې د طالبانو د سختو جګړو شاهد دی. طالبانو يو ځل په ۲۰۱۵ ز کال کې پر دغه ښار بريد وکړ او څو ورځې يې کندوز په ولکه کې و. بيا د ناټو ځواکونو په ملتيا افغان پوځيان بريالي شول چې طالبان په شا وتمبوي او کندوز ونيسي. په ۲۰۱٦ ز کال کې بيا هم پر دغه ولايت بريد وشو او د امنيتي ځواکونو له لوري تر بيا نيولو وروسته، د دغه ښار د وضعيت ارزولو لپاره يو حقيقت موندونکی پلاوی وګومارل شو. پلاوي په خپل راپور کې وويل چې د رهبرۍ کمزوري او د دغه ښار امنيتي پېچلتيا د سقوط لاملونه دي.

خو سره له تجربو طالبانو يو ځل بيا وړمه شپه پر دغه ښار بريد وکړ او پرون يې ټوله ورځ جګړه وکړه.

د ملي دفاع او کورنيو چارو سرپرست وزيران دغه ولايت ته لاړل او وايي، موخه يې دا ده چې په کندوز کې روانه جګړه له نږدې مديريت کړي. له دوی سره په دې سفر کې په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قومندان جنرال سکاټ مېلر هم شامل دی. د ملي دفاع سرپرست وزير اسدالله خالد له رسنيو سره په خبرو کې وويل چې طالبان تر فشار لاندې دي، نو ځکه غواړي د رسنيو توجه ځان ته واړوي. خالد وايي:((په نورو ولايتونو کې طالبان تر فشار لاندې دي. تلفات يې لوړ شوي دي. ځکه پر کندوز بريد کوي، غواړي رسنۍ ځان ته متوجه کړي. موږ په کندوز کې يو او د دوی تر ختمولو پورې به عمليات کوو)).

بل پلو راپورونه وايي چې دواړو لورو ته په جګړه کې درنه مرګ ژوبله اوښتې ده. د تېرې شپې تر اتو بجو پورې په کندوز کې د عامې روغتيا رياست سرچينو رسنيو ته وويل، چې تر دې دمه د اتو ملکيانو جسدونه او ٦۰ ټپيان وروړل شوي دي. پرون ماښام ناوخته بيا وسله والو طالبانو د کندوز ښار په مرکزي چوک کې ځانمرګی بريد وکړ، چې ۲۳ کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې ده. د دغه ولايت د امنيه قومندان وياند سيد سرور حسيني او مرستيال وياند نصير په ګډون، ۱۱ کسان پکې وژل شوي او ۱۲ نور ټپيان دي. په ټپيانو کې امنيه قومندان منظور ستانکزی هم شامل دی .

ولسمشر غني بيا پر کندوز د طالبانو بريد غندلی دی او په خبره يې، د دوی دغه ډول بريدونه يې په قطر کې د مشرانو له روانو خبرو سره په ټکر کې بللي دي. د ولسمشر غني په خبره، د طالبانو بريد ښوده چې دوی سولې ته ژمن نه دي او تر دې دمه پر جګړه باور لري. هغه زياته کړې چې افغان امنيتي ځواکونه به د خلکو له مال او ځانه دفاع کوي او په کندوز کې به د طالبانو تر ختمولو پورې جګړه کوي. ولسمشر غني ټينګار وکړ چې دوی سولې ته ژمن دي، خو هغه سولې ته چې د افغانانو عزت او لاس ته راوړنې خوندي کړي. ولسمشر غني يو ځل بيا ټينګار کړی چې امنيتي ځواکونه د معاملې وړ نه دي او له هېڅا سره به د سولې په هېڅ تړون کې پر امنيتي ځواکونو معامله ونه کړي.

په کندوز کې داسې مهال خونړۍ جګړه روانه ده، چې طالب او امريکايي استازي لا هم په قطر کې د سولې پر مسايلو خبرې کوي. دواړه لوري د پرمختګونو خبره کوي، خو افغانان لا هم د سولې روانو خبرو او خونړۍ جګړې انديښمن کړې دي.

# اروپايي ټولنه: له ایران سره د اټومي هوکړې د ساتنې لپاره به خپلې هڅې جاري وساتو

په داسې حال کې چې د امريکا او ايران ترمنځ کړکېچ ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دی، يادې ټولنې ويلي چې له ايران سره د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي هوکړې د ساتنې لپاره به هڅې جاري وساتي.

دې ادارې دغه راز ويلي چې تر هغه وړاندې که څه ور زياتېدلی شي، دوی يې هرکلی کوي.

د اروپايي ټولنې د بهرني سياست مشرې فېدريکا موګيرېني په هلسنکي کې ويلي چې په بشپړ ډول د هوکړې د خوندي ساتلو لپاره هڅو ته به لومړيتوب ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو وړمه ورځ په فنلنډ کې غونډه وکړه. د هغوی د بحث يوه اساسي موضوع دا وه چې له ايران سره شوې اټومي هوکړه په څه ډول خوندي پاتې کېدلی شي.

د يادونې ده چې د ايران حکومت تر ډېرو بحثونو وروسته، په ۲۰۱۵ ز کال کې د امنيت شورا له پنځو قدرتونو او جرمني سره هوکړه وکړه، چې د بنديزونو د کمېدو په بدل کې به خپل اټومي فعاليت محدود کړي. خو له دې پرېکړې وروسته امريکا په ۲۰۱۸ ز کال کې وويل چې موافقه نيمګړې ده او دوی ترې وځي.

امريکا تر وتلو وروسته پر ايران خپل اقتصادي بنديزونه له سره ولګول چې د ايران اقتصاد يې تر ډېر فشار لاندې کړی او ورڅخه غواړي چې په بشپړ ډول خپل اټومي فعاليت بند کړي. د امريکا له دې پرېکړې وروسته، له ايران سره د شوې هوکړې دوام په شک کې دی او اروپايي هېوادونه غواړي چې له لغوه کېدو وساتل شي.

د اروپايي ټولنې د بهرني سياست مشرې فېدريکا موګيرېني خبريالانو ته ويلي: «زما رول دا دی چې موجوده موافقه په بشپړ ډول عملي شي، خو که بل څه ورباندې اضافه کېدلی شي، موږ يې هرکلی کوو او اروپايي اتحاديه به يې ملاتړ کوي».

په همدې حال کې د ايران او غربي دولتونو ترمنځ د هورمز په تنګي کې کړکېچ د زياتېدو په حال کې دی. دغه تنګی د نړۍ د تېلو د سترو بېړيو د تګ راتګ پر مهمه سمندري لار پروت دی، چې ايران له دې لارې په دې وروستيو کې د څينو غربي دولتونو د تېلو ټانکرونو او سترو بېړيو د نيولو هڅې کړې دي.




له دې وروسته برېټانيا په دې وروستيو کې له واشنګټن سره لاس يو کړی او په هغه ماموريت کې چې امريکا د فارس په خليج کې د تېلو د نړيوال ټرانزيټ د خونديتوب لپاره پيل کړی، ګډه شوې ده.

## د کتـــاب خبـرې


# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### درییم څپرکی
### د طالبانو قدرت




په افغانستان کې د نوو اسلام پالو له را پیدا کېدو سره هغوی هڅه وکړه چې هرڅه اسلام بنسټه کړي، ځکه یې د عصریتوب، پرمختګ، ملي دولت او سیاسي ایډیولوژیو ټولې طرحې رد کړې. هغوی په پاکستاني حکومت کې خورا سخي حامیان وموندل. هغه مهال چې روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، د لوېدیځو بې دریغه مرستې پر پاکستان را ماتې شوې، له دې فرصت څخه پاکستان لویه ګټه واخیسته او د پښتنو ملت پالو په کمزوري کولو سره یې خپلې اوږد مهالې موخې ته ورسېد.

پاکستان په افغانستان کې د سخت دریځو اسلام پالو او خپلې لوېدیځې پولې ته نږدې د اسلامي ګوندونو ملاتړ کاوه. اسلاماباد پوهېده چې دا ځواکونه ځواکمنتیا او کنټرول دواړه لري. پښتانه بیا د نورو مسلمانانو په څېر اسلامي افرطیت ته مایل خلک نه دي. د اسلاماباد پانګونې پښتني اسلام پال افراطیت د توقع خلاف مطرح کړ چې ښه بېلګه یې طالبان دي. طالبانو په وار وار ویلي وو چې اسلامي یووالی له قومي مسائلو او توکم پالنې ډېر ارزښت ورته لري. د یوه تریخ حقیقت په توګه، په افغانستان کې د طالبانو قدرت د پاکستان پښتانه سره ووېشل. له طالبانو سره د جمعیت علماء اسلام ګوند ملاتړ، په نړیواله کچه د سېکولر ملت پالو پښتنو له سخت غبرګون سره مخ شو، ځکه یې له دیني ملایانو سره پر ټاکنو سخته مقابله هم کوله. د قومپالو ملت پالو پښتنو په اند چې طالبانو د پاکستان د پوځ د برلاسي موخې پلې کولې. که څه هم ملت پال پښتانه ونه توانېدل اسلاماباد ته قناعت ورکړي چې د خپل امنیت ساتنې تګلاره بدله کړي، خو پښتنو کې د عامه افکارو مخالفت لا پسې پراخ شوی و. پښتون سیاستوال، افراسیاب خټک راته وویل: ((طالبان یوه ورانوونکې ډله وه. د هغوی موخه دا ده چې افغانیت په اسلامیت واړوي. د کابل راډیو نوم یې په شریعت غږ واړاوه. پر ملي سرود او ملي بیرغ یې بندیز لګولی و، د بامیانو مجسمه یې ورانه کړه، کلتوري حیثیت یې تر پښو لاندې کړ، له دې ټولو ښکاري چې هغوی غواړي د یوې ستراتیژیکې موخې په توګه افغاني ټولنه د سخت دریځي اسلام په جګړه‌ییزه کرښه بدله کړي.))

### پاکستاني نیابتیان

د طالبانو د قدرت پر مهال د افغانستان په چارو کې د پاکستان نفوذ خپل اوج ته رسېدلی و. په افغانستان کې د بې ارزښته افغانیو پر ځای پر پاکستانیو کلدارو راکړه ورکړه کېده. اسلاماباد به هر کال طالبانو ته د حکومتي مامورینو د معاشونو لپاره پیسې ورکولې. په کندهار او کابل کې د طالبانو فعال ټلیفونونه د کوېټې او پېښور په فرعي مخابراتي اړیکو چلېدل. ډېری طالبان یا د پاکستان د کډوالو په کمپونو کې را لوی شوي وو یا خو یې په پاکستاني مدرسو کې زده کړې کړې وې.

که څه هم د طالبانو اداره د پاکستان د استخباراتو په لاس کې وه، خو هغوی په خپلواکه توګه له پاکستانیو اسلامي ګوندونو، بېلتون پالو افراطیانو، پر پوله د سوداګریزو او ټرانسپورټي شبکو، حکومتي ادارو او ان له سېکولر سیاستوالو سره اړیکې لرلې. د نفوذ زیاتوالی ډېری وخت د دې سبب کېده چې طالبانو اصلاً د پاکستاني ډیپلوماټانو، نظامیانو او څارګرو فشارونو ته هم پاملرنه نه کوله. دا مهال له ۱۹۸۰ز لسیزې څخه ډېر متفاوت و، ځکه هغه مهال مجاهدین په بشپړه توګه د پاکستان پر ISI متکي وو.

د افغانستان په اړه د پاکستان سیاست له تضاد سره مخ شو. په ۱۹۹۴ز کال پاکستاني پوځیان لوېدیځ ملکنډ ته لاړل چې د تحریک نفاذ شریعت محمدی یاغیان وځپي، خو په عیني وخت کې پاکستان په افغانستان کې د طالبانو ورته ډله حمایه کوله. بل لور په پاکستاني ټولنه کې د طالبانو او مجاهدینو نفوذ هم پروت و. د پولې په سیمو کې ډېری دیني ملایان د طالبانو له حکومت څخه اغېزمن شوي وو، هغوی هم په خپلو سیمو کې ورته سېسټم غوښت، هغوی هم ټلویزیون کتلو او میوزیک اورېدلو ته اجازه نه ورکوله. دې کسانو هم د حدودو د پلي کېدو هڅې کولې. د پاکستان دولتي اداره د دې ګواښ پر وړاندې بې پروا وه.

د طالبانو د قدرت پر مهال ډېر شیعه ضد سني افراطیان پاکستان کې مېشت شول. له دې کسانو څخه یې د ډېرو نومونه د پاکستان د مجرمینو په لومړۍ درجه لېست کې وو دوی د پاکستان په کچه د سلګونو او زرګونو قتلونو عاملین وو چې ډېری قتلونه یې په پنجاب او سیند کې کړي وو.

که له یوې خوا پاکستان په افغانستان کې خپل ستراتیژیک عمق پلی کاوه او د هند د نفوذ مخه یې نیوله، له بل لوري افراطیان په پاکستان کې د خپل ستراتیژیک عمق په عملي کولو بوخت وو. له لسیزو پاکستان پر پښتون اسلامېزم پانګونه وکړه چې د پښتنون ملت پال ګواښ مخه ونیسي، خو پښتون اسلامېزم خپله په سیمه کې د یوه ګواښ په توګه شته. اسلام پال د پاکستان امنیتي اجنډا ته ژمن نه دي، هغوی خپلې ایډیولوژۍ ته تر هره بریده ژمن دي. کله چې طالبانو او القاعدې په ۲۰۰۲ز کال، پر پاکستان بریدونه وکړل، د پاکستاني حکومت مشران پوه شول چې طالبانېزم په اصل کې د پاکستان د دولت له ستراتیژیک لیدلوري سره په جګړه دی. طالبانو او پلویانو یې غوښتل چې د پاکستان دولت او ټولنه یوه پراخ اسلامي اتحاد ته چې پکې پاکستان، افغانستان او منځنۍ اسیا وي، شامل کړي.

**دوام لري...**

# پیشګام د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



پیشګام د لوړو زده کړو موسسې خپلې چارې په ۱۳۸۷ لمریز کال کې هغه وخت چې تازه تازه خصوصي سکټور په دې برخه کې پانګونه پیل کړې وه، د لوړو زده کړو وزارت په جواز او منظورۍ په رسمي ډول پیل کړې. د پیشګام د لوړو زده کړو موسسې رییس ښاغلی کمال الدین حامد وایي، یوولس کاله کېږي چې په دې برخه کې د هېوادوالو لپاره خدمت کوي او له خپلو فعالو پوهنځیو څخه محصلین د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کوي.

ښاغلی حامد وایي، له پیله تر اوسه یوازې دوه پوهنځي (اقتصاد او کمپیوټر ساینس) لري، خو که لوړو زده کړو وزارت اجازه ورکړي، ډېر ژر به د ښوونې او روزنې او دغه راز د حقوقو او شرعیاتو پوهنځي هم د لوړو زده کړو د دې موسسې په چوکاټ کې ور زیات کړي. د دې موسسې رییس وایي، اوسمهال د ۲۰۰۰ په شاوخوا کې محصلین لري، چې له دې ډلې دېرش سلنه یې نجونې دي. پیشګام د لوړو زده کړو په موسسه کې د ورځې په څلورو بېلابېلو وختونو کې تدریس کېږي، چې د رییس په خبره یې، په یوه ټایم کې یې د محصلینو شمېر یو څه کم دی، خو په پاتې دریو وختونو کې په کافي اندازه محصلین لري. د دې موسسې له دوو فعالو پوهنځیو څخه تر اوسه پورې پنځه دورې محصلین د لېسانس په کچه فارغ شوي دي.

د پېشګام د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، ډېر پوهنتونونه هڅه کوي چې د نارینه او ښځینه استادانو د ګومارنې ترمنځ توازن په پام کې ونیسي، چې په خبره یې دغه څه جبري نه دي او دوی تر ډېره د استادانو د زده کړو درجې او کاري تجربې ته په کتو، استادان ګومارلي دي. ښاغلی حامد وایي، مهمه نه ده چې په یوه پوهنتون کې دې د ښځینه استادانو او یا هم د نارینه استادانو شمېر ډېر وي او یا دې هم په دې برخه کې توازن په پام کې ونیول شي. مهمه دا ده چې پر کار پوه، مسلکي او تجربه لرونکي کسان پر دنده وګومارل شي. دی وایي، ۷۵ سلنه استادان یې د دوکتورا او ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او پاتې نور یې لېسانس دي، چې د تدریس په برخه کې کافي تجربه لري او محصلین یې له تدریس څخه خوښ دي.

دا چې له ۱۳۹۲ لمریز کال را پدېخوا په خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو کې د هر ډول انکشاف مخه نیول شوې ده، مانا دا چې تر دویم امر پورې په خصوصي پوهنتونونو کې د ماسټرۍ پروګرام پیلول، د نویو پوهنځیو تاسیس او یا هم د نورو نویو خصوصي پوهنتونو د ایجاد چارې ځنډېدلې دي، نو د پیشګام د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، د ستراتیژیک پلان له مخې یې غوښتل چې په روان ۱۳۹۸ لمریز کال کې د ماسټرۍ پروګرام هم پیل کړي، خو په خبره یې چې په راتلونکي ۱۳۹۹ لمریز کال کې به دې موخې ته هم ځان ورسوي او تر څنګ به یې نوي پوهنځي هم تاسیس کړي. حامد وایي، مخکې یې د کلني جذب شمېره ټیټه وه، خو اوس چې د کانکور ازموینه د منې په موسم کې اخیستل کېږي، د جذب کچه یې هم لوړه شوې ده. دی وایي، همدا تېر منی یې په خپلو دوو پوهنځیو کې د ۱۰۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذب کړل.

د پیشګام د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، د محصلینو لپاره درې ډوله تخفیف لري. د ښاغلي حامد په خبره، له لوړو زده کړو وزارت سره د یوې هوکړې له مخې د هغوی لخوا ورپېژندل شوي څلوېښت کسان چې ډېری یې د شهیدانو او معلولینو د کورنیو وارثین دي، په وړیا ډول د دوی د لوړو زده کړو په موسسه کې درس وایي. دغه راز د هېواد د امنیتي ارګانونو لکه دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست سره هم په دې برخه کې هوکړه لري، چې له مخې یې دوی ته ځینې کسان ورپېژندل کېږي او د دوی په موسسه کې په یو څه تخفیف زده کړې کوي. تر څنګ یې د هېواد له لسګونو نورو ادارو او بنسټونو سره په دې برخه کې هوکړې لري او ورپېژندل شوي کسان له دوی سره په مناسب تخفیف لوړې زده کړې کوي.

د دې موسسې رییس وایي، دا چې کتابتون د یوه پوهنتون لپاره اړین دی، نو دوی هم د خپلو محصلینو لپاره یو مجهز کتابتون چمتو کړی دی، چې درې برخې لري. عمومي، تخصوصي او سافټ. دی وایي، د کتابتون په عمومي برخه کې یې بېلابېل علمي او نور هر اړخیز کتابونه موجود دي، چې محصلین او استادان ترې د ازادې مطالعې لپاره ګټه اخلي. د کتابتون بله برخه یې تخصوصي ده چې د اړوندو پوهنځیو د اړتیا وړ کتابونه پکې دي او محصلین ترې د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه اخلي. حامد وایي، د کتابتون په سافټ برخه کې یې په زرګونو بېلابېل کتابونه د محصلینو په واک ورکړي دي او وخت ناوخت ترې ګټه اخلي. دی وایي، هڅه یې دا ده چې کتابتون له دې هم غني کړي.

حامدوایي، لومړی خو دا چې د لوړو زده کړو موسسه یې د افغانستان د خصوصي پوهنتونونو د اتحادیې غړیتوب لري، چې تر څنګ یې د هېواد له ځینو خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو سره علمي اړیکې او هوکړې هم لري، په تېره بیا له هغو پوهنتونونو سره چې د دوی د موسسې اړوند پوهنځي لري. دی وایي، په دې وروستیو کې یې یو پلاوی پاکستان او هند ته هم استولی و، چې په دغو هېوادونو کې یې له بېلابېلو پوهنتونو څخه لیدنې کړې دي او ډېر ژر به د دغو پوهنتونونو له ځینو سره یې ځینې هوکړې لاسلیک کړي، چې له مخې به یې خپل استادان او محصلین د لا نورو زده کړو او تجربو تر لاسه کولو لپاره دغو هېوادونو ته واستوي.

د نوموړي په خبره، تر اوسه پورې یې خپلو ټولو فارغ شویو محصلینو ته د لوړو زده کړو وزارت تر تایید وروسته تصدیق پاڼې ورکړې دي، چې له مخې یې محصلین کولی شي په هېواد او یا له هېواده بهر نورې لوړې زده کړې پرې وکړي او یا هم دندې تر لاسه کړي، خو داسې ډیپلومونه یې نه دي ورکړي لکه نور دولتي پوهنتونونه یې چې ورکوي. دوی وایي، په دې برخه کې لوړو زده کړو وزارت خپل میکانېزم لري، چې له مخې به یې په خپل وار د خصوصي پوهنتونونو فارغېدونکو محصلینو ته هم د یاد وزارت تاید شوي ډیپلومونه ورکول کېږي.

د پیشګام د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، پر عمومي زده کړو سربېره، د خپلو محصلینو لپاره نور بېلابېل پروګرامونه هم لري. د حامد په خبره، د پښتو، دري او انګلیسي ژبو ادبیات په وړیا ډول د محصلینو لپاره تدریسېږي. تر څنګ یې د کارموندنې او نورو تجربو لپاره میاشتنې او اونیز ورکشاپونه په پام کې نیول شوي، چې له محصلینو سره په اړوند برخه کې مرسته کوي. دی وایي، د فعالو پوهنځیو د محصلینو لپاره د کابل پوهنتون پر استادانو سربېره، د اړوندو برخو مسلکي کسان را غواړي او محصلینو ته د نظري زده کړو تر څنګ په عملي ډول هم زده کړې ورکوي. حامد وایي، په کابل کې له ډېری دولتي او خصوصي ادارو سره هوکړې لري، چې له مخې یې فارغېدونکي محصلین د عملي زده کړو لپاره وراستوي، چې ډېری یې له فراغت وروسته په همدې ادارو کې پر دندو ګومارل کېږي.

د دې موسسې مشرتابه وایي، د راتلونکي لپاره ډېر پلانونه لري، چې یو پر بل پسې به یې عملي کوي. د ښاغلي حامد په خبره، د ماسټرۍ پروګرام، د نویو پوهنځیو تاسیس او له ځینو بهرنیو پوهنتونو سره اړیکې او هوکړې لاسلیکول یې په لومړیتوبونو کې دي. دی وایي، که لوړو زده کړو وزارت دویم ځلي اجازه ورکړي، لومړی د ښوونې او روزنې او دغه راز د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي به تاسیس کړي او تر څنګ به یې په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرم هم پیل کړي.

د پیشګام د لوړو زده کړو موسسې رییس له لوړو زده کړو وزارت څخه درې غوښتنې لري، لومړی دا چې لوړو زده کړو وزارت باید له خصوصي پوهنتونو سره په خپلو اړیکو کې بدلون راولي او دغو اړیکو ته د همکارۍ بڼه ورکړي. ښاغلی حامد وایي، لوړو زده کړو وزارت او د دې وزارت ځینې کارکوونکي ډېری وخت د خصوصي پوهنتونو پر وړاندې منفي تبلیغات کوي او خلکو ته داسې ښکاره کوي، چې ګواکې دولتي پوهنتونونه پر خصوصي هغو غوره دي، په داسې حال کې چې د دواړو موخه یوه ده، یوازې دومره توپیر لري چې د هغو مالي ملاتړ دولت کوي او د دې خصوصي سکټور. دویم دا چې که لوړو زده کړو وزارت لږ هم د خصوصي پوهنتونو د پر ځان بسیاینې سره مرسته وکړي، ډېر لوی کار به یې کړی وي، ځکه دا په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده. دی وایي، که لوړو زده کړو وزارت وغواړي او که نه، په راتلونکو دوو لسیزو کې به په هېواد کې اتیا سلنه خلک په خصوصي پوهنتونو کې زده کړې کوي او یو وخت به پر خپلو پښو دریږي، نو ښه ده چې په دې برخه کې یې لاسنیوی وکړي. دریېم هم دا چې افغان حکومت باید له خصوصي پوهنتونو څخه د مالیاتو په لږ اخیستو کې یو څه مرسته وکړي. دی وایي، نه غواړي چې دوی دې له مالیاتو وبښل شي، بلکې تر هغه وخت پورې دې یو څه کمښت پکې راشي، څو چې دغه بنسټونه پر خپلو پښو ودرېږي.

همیانی

# دا کړنې مو په کاري چاپېریال کې بې حوصلې کوي

ژباړه: امان الله «حنیفي»

بیا هم شنبه شوه، ستاسې د ساعت برابر شوی زنګ د کوټې سکوت ماتوي، خو تاسې بیا هم څو ځله د ساعت د زنګ د بندېدو بټنه وهی او د خوب له کټه ځان نه بېلوی. له څو ځلې داسې تکرار وروسته کله چې د ساعت ستنه اتو بجو ته نږدې کېږي، د بدن ټول غړي مو درد کوي. بالاخره کاري چاپېریال ته ځی او د مېز پر سر اېښی کمپیوټر مو چالانه وی. هرڅه مو په نظر طبیعي راځي، پرته له ذهنه چې یو خوا بل خوا مو بیایي.

که مو کاري چاپېریال ستاسې له وسې لوړ یا مو په زړه جوړ نه وي او ستاسې د بې حوصله‌ګی او بد چلند سبب کېږي، ښه ده چې دا لیکنه تر اخره ولولئ، څو له دې ځورووُنکو شرایطو خلاص شی. موږ په همدې مقاله کې په کاري چاپېریال کې د بې حوصله‌گی، د هغه پر پېژندل شوو پایلو او له هغه د خلاصون پر لار چارو خبرې کوو.

**۱ـ ستاسې غوښتنې له هغه کار سره چې تاسې یې کوی، همغږې نه دي**

دا جالبه نه ده چې ستاسې کار او دنده دې له هغه څه سره چې تاسې یې غواړی، همغږې وي یا دې ستاسې په زړه جوړ وي. خو ممکنه ده چې ځینې وخت دې تاسې دغو لاملونو ته متوجې نه وی. تر هرڅه مخکې ښه ده چې لومړی پر دې فکر وکړئ، چې ولې مو دا کار غوره کړی او ولې یې کوو. د هر کار او دندې د پیلولو پر مهال لومړی دا پوښتنې له ځانه وکړئ، چې ولې یې کوی؟ ایا دا ستاسې مسلکي برخه ده؟ ایا له دې کار سره ستاسې مینه او علاقه ده؟ ایا په دې برخه کې تاسې کوم ځانګړی مهارت لری؟ ایا باوري یاست چې له دې لارې به خپلو هیلو ته ورسېږی؟

دا او دېته ورته نورې پوښتنې له تاسې سره بیا دا مرسته کوي، چې د کار او عمل پر مهال یې له زړه تنګون او بې حوصله‌گی څخه خلاص شی.

**۲- له خپلو وړتیاوو څخه په کاپي اندازه ګټه نه اخلی**

هرڅوک پیاوړي مهارتونه لري، خو هغوی بیا تر ګټه اخلي چې پرله پسې کار او هڅه کوي. که موږ په کاري چاپېریال کې له خپلو ټولو وړتیاوو ګټه وانه خلو، حتمي ده چې دنده او کار به مو راته زړه تنګوني او ناارامه وي. تر ټولو بده لا دا چې ممکنه ده د شرکت او ځان د ارزښت په اړه ورځ تر بلې بې علاقې او بالاخره خپله کاري انګېزه له لاسه ورکړو.

د څېړنو پایلو ښودلې چې زیارکښ او پرله پسې هڅه کوونکي کسان که هرڅو کم مهارته او د ښه استعداد خاوندان نه وي، خو دوی د پرله پسې هڅو په مټ د هغوی په پرتله چې ښه استعداد لري، په سلګونو ځله بریالي او خپلو موخو ته رسېدونکي دي. د مهارتونو پیاوړي کول د اوبو چینې ته ورته دي، د اوبو له چینې یا ثاه څخه چې څومره اوبه ایستل کېږي، هغومره پکې نورې زیاتېږي او که ترې ونه ایستل شي، هغه شته اوبه هم پکې وچېږي یا کیفیت خرابېږي چې بیا د هېڅ لپاره هم پکار نه راځي.

**۳ـ د زده کړې له کمو فرصتونو ګټه اخلی**

داسې تصور وکړئ چې یوه ټاکلې دنده دوې اونی، یا دوې میاشتې، یا دوه کاله او یا هم په وار وار سرته رسوی، دا وخت به د دغه دندې د سرته رسولو او بالاخره د هغه د پایلې په اړه ستاسې احساس څه وي؟ باوري یم چې که پرمختګ او نوښت پکې ونه لری، د مرګ تر ورځې به درته زړه تنګوني او ناارامه کوونکې وي.

که ستاسې کاري چاپېریال د نوښت او پرمختګ لپاره نه وي جوړ، هغه ده چې تاسې ورو ورو له خپل کار او دندې زړه توری کېږی او بالاخره دې حد ته رسېږی چې نور د ټول ژوند په اړه داسې حس وکړی، چې ژوند مانا ناارامي او زړه تنګون.

**۴ـ ډېر وخت بې ځایه ضایع کوی**

په کاري چاپېریال کې د راحت او ارام اخیستو لپاره تفریح کول ضرور دي، خو له حده زیات یې بیا د کار د پس پاتې کېدو سبب کېږي. کله چې تاسې خپل ډېر وخت بې ځایه ضایع کوی، هغه ده چې ذهن مو یوه خوا او بله خوا پاشل کېږي، کله به د دې په اړه فکر کوی چې د مانښام ډوډۍ به چېرې خورم او کله خو به هم د ګاونډي د کور د رنګ په اړه سوچونه کړی، چې که پلانی رنګ یې ورکړی وی، هغه ښه و. اصلي ستونزه به درنه پاتې وي او تاسې به له پردیو پټیو مرغان شړی. څومره مو چې له وسه کېږي وخت بې ځایه مه تېروی، که دنده نه لری، له هغو کسانو سره ناسته پاسته وکړی، چې ستاسې د خوښې وړ دنده او ژوند لري، له هغوی د دغه څه راز وپوښتئ، په ازاد او خالي وخت کې د خپل مسلک اړوند مهارتونه پیاوړي کړئ، کله کله خپل تېر وخت ته ورستانه شئ، د هغه څه له تکراره ځان وساتئ چې تاسې یې له ډېرو نعمتونو بې برخې کړي یاست. څومره چې تاسې مصروف وی، هماغوره به مو حوصله او ارام هم پر ځای وي.

**۵- د سټریا او ناارامۍ احساس کوی**

هغه موخې چې باید په ژوند کې یې لاسته راوړو او هغه مسایل چې له کاري چاپېریاله یې بیرون باید لاسته راوړو، له اندازې زیات دي. کله چې پر ډېرو کارونو مصروف وو، توجه او کاري انرژي مو ټوله له منځه ځي، مانا دا چې یو هم په بشپړ ډول نه شو لاسته راوړلی. موږ چې هرڅومره د موخې او هدف د لاسته راوړلو لپاره کمه هڅو کوو، هماغومره مو مینه او علاقه هم ورسره کمېږي. دا مسئله مو حتی په کاري چاپېریال کې د بې حوصله ګی لامل هم کېږي.

## شکایتونو کمېسیون: د ولسمشر غني او عبدالله ټاکنیزې ډلې یو بل ته سپکې سپورې وایي

په داسې حال کې چې نږدې یوه میاشت کېږي، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وایي چې د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ټاکنیزې ډلې یو بل ته سپکې سپورې وایي.

دغه کمېسیون ویلي، په دغو کمپاینونو کې د شویو سرغړونو په تړاو ورته ۳۲ بېلابېل شکایتونه رسېدلي، چې ځینې یې جدي دي او ممکن د دې لامل شي چې د نوماندانو سیالۍ تر یوې اونۍ یا تر دې هم زیاتې مودې لپاره وځنډوي.

د دغه کمېسیون چارواکو ویلي چې ډېر شکایتونه د ولسمشر محمد اشرف غني او د حکومت د اجرایه رییس عبدالله عبدالله د ټاکنیزو ډلو په تړاو دي، چې د یو بل پر ضد یې ثبت کړي دي.

د یاد کمېسیون غړي سید قطب الدین رویدار بي بي سي ته ویلي: «له دولتي امکاناتو ګټه اخیستل او د یوه او بل پر وړاندې سپکې سپورې هغه قانوني سرغړونې دي، چې موږ ته یې په اړه شکایتونه را رسېدلي. موږ د ډېرو په اړه پرېکړې کړې او ځینې مو له رسنیو سره شریکې کړې دي».

نوموړي ویلي، ځینې شکایتونه داسې دي چې یادې ټاکنیزې ډلې قانون او د کمېسیون تګلارو ته درناوی نه لري، چې د هغه په خبره، د دوی پر وړاندې کمېسیون بې تفاوته نه شي پاتې کېدای.

هغه دغه راز ویلي: «نغدي جریمې، جدي خبرداری، سپارښتنې، اصلاحي غوښتنې پکې شته او ځینو لوړپوړو کاندیدانو ته مو جدي خبرداری هم ورکړی دی. کمېسیون مخکې تر مخکې طرزالعملونه جوړ کړي او موږ د قانون په چوکاټ پرې عمل کوو».

د نوموړي په خبره، دولت جوړوونکې او د ثبات او همپالنې ټیمونو ته جدي خبردرای ورکړل شوی، چې دوی د یو بل په اړه زیات شکایتونه ثبت کړي او ډېری یې مستند دي.

د هغه په خبره، که دوی خپلو سرغړونو ته دوام ورکړي، شکایتونو کمېسیون به په ټاکنیز قانون کې خپله وړاندوینه کوي، چې دوی به له ځینو کړنو څخه محرومېږي. د ده په خبره، کمېسیون صلاحیت لري چې نوماندان د څو ورځو او یا هم څو اونیو لپاره له ټاکنیزو مبارزو محروم کړي.

## ټاکنو کمېسیون: یوازې نهو نوماندانو د ټاکنیزو مبارزو د لګښتونو په اړه کمېسیون ته راپور ورکړی دی

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د ولسمشریزو ټاکنو نهو نوماندانو د خپلو ټاکنیزو مبارزو د لګښتونو په اړه دغه کمېسیون ته راپور ورکړی دی.

دغه کمېسیون وایي، د ولسمشریزو ټاکنو هغه نوماندان به شکایتونو کمېسیون ته معرفي شي چې تر اوسه یې د خپلو ټاکنیزو مبارزو د لګښتونو راپور دوی ته نه دی ورکړی. د دغه کمېسیون مرستیال ویاند میرزا محمد حقپرست ازادي راډیو ته ویلي: «تر اوسه نهو نوماندانو خپل مالي راپور کمېسیون ته سپارلی، په دې کې هم ستونزې موجودې دي، یعنې ځینو نوماندانو فورمې په سمه توګه نه دي ډکې کړې او هغو نوماندانو چې د تېرې ورځې[وړمې ورځې] تر ماښامه یې راپور نه دی ورکړی، دوی به د شکایتونو کمېسیون ته ور وپېژندل شي او ورسره به قانوني چلند وشي».

دغه کمېسیون ویلي، کاندیدان مکلف دي چې د خپلو ټاکنیزو سیالیو لومړی راپور د ټاکنیزو سیالیو له پیله تر یوولسمې یا هم تر دیارلسمې ورځې او دویم راپور د ټاکنیزو سیالیو د چوپتیا په بهیر کې کمېسیون ته ولېږي. دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لایحې له مخې، د جمهوري ریاست هر کاندید مکلف دی چې د ټاکنو د کمپاین د هرې میاشتې د لګښتونو حساب له کمېسیون سره شریک کړي. د قانون له مخې، هېڅ کاندید حق نه لري چې له ۴۴۱ میلیونو افغانیو ډېرې پیسې په خپلو کمپاینونو کې مصرف کړي.

بلخوا د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ یا فیفا اجرایوي رییس یوسف رشید ویلي، د کاندیدانو له کړنو ښکاري چې دوی قانون ته درناوی نه لري.

هغه زیاته کړې: «د دوی دا کړنه څرګندوي چې قانون ته درناوی نه لري او قانون ورته جدي نه ښکاري. بله مسئله دا ده چې د دوی د کمپاینونو نه شفافیت د دې سبب شوی چې راپورونه یې په وخت نه ورکول کېږي او له دې ښکاري چې دوی په عوایدو او لګښتونو کې ستونزې لري».

هغه دغه راز د ټاکنو له خپلواک کمېسیونه غوښتې چې په دې تړاو شکایتونو کمېسیون ته شکایت وکړي.

د یادونې ده چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د کاندیدانو کمپاینونه د زمري په ۶مه پیل شول او د تلې تر څلورمې به دوام وکړي.

## شاهین: له امریکا سره د هوکړې متن وروستی شوی او د اجرا پر څرنګوالي یې خبرې روانې دي

په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر ویلي چې له امریکا سره د هوکړې متن وروستی شوی او د اجرا د څرنګوالي په اړه یې خبرې روانې دي.

دوی ویلي، په نهایي شوي متن کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو موضوع هم شامله ده.

د دغه دفتر ویاند سهیل شاهین ازادي راډیو ته ویلي چې د دواړو لوریو استازي د هوکړې پر څرنګوالي بحث کوي، خو نوموړي په دې اړه زیات جزیات نه دي ورکړي.

هغه ویلي: «تر ډېره د مسایلو په اړه بحث وشو او کم موارد پاتې دي، د توافقنامې متن چمتو شوی، ځینې تکي پاتې دي چې وربانډې بحث کوو».

خو شاهین د دواړو لوریو د موافقې په ځانګړي ډول له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه له جزیاتو ورکولو ډډه کړې ده.

بلخوا یوه افغان چارواکي د نوم نه ښودو په شرط ازادي راډیو ته ویلي، چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو پر سر له طالبانو سره د امریکا توافق له نظره لرې برېښي.

په ورته وخت کې پخواني طالب چارواکي سید اکبر اغا ویلي چې په پنځلسو میاشتو کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل او د طالب زندانیانو ازادول د زلمي خلیلزاد او طالبانو د موافقې برخې جوړوي.

د هغه په خبره: «زما په اند د هوکړې په متن کې د بهرنیو ځواکونو وتل او همداشان د طالب زندانیانو ازادول راغلي چې باید په دریو پړاوونو کې ازاد شي. نور مسایل لکه اوربند او په افغانستان کې د حکومت د ساختار څرنګوالی بین الافغاني خبرو ته پاتې دي».

که څه هم طالبان له امریکا سره په مذاکراتو کې د پام وړ پرمختګونو خبره کوي، خو دغه ډله اوس هم د افغان حکومت لپاره یوه تروریستي ډله ده.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي ویلي چې دغه ډله اوس هم د هېواد د امنیت لپاره ګواښ ګڼل کېږي او په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو حضور اړین دی.

هغه زیاته کړې: «طالبان د جګړې د ختمېدو لپاره هېڅ ډول ژمنه نه لري او لیدل کېږي هم نه، نن ورځ[پرون] یې هم په کندوز کې پر څو ځایونو حملې کړې، هغه څه چې طالبان یې مطرح کوي، موږ ته د بحث وړ نه دي، ځکه چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو پلان په شرایطو پورې تړاو لري او له دې سره تړاو لري چې افغان حکومت له امریکا سره د ستراتیژیک مشارکت په چوکاټ کې په دې اړه څنګه بحث وکړي».

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۰۵ |
| € | ۸٦,٤۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٤,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



کابل د میوند جادې ورروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د وږي لسمه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر لومړۍ | ۴۲۳مه ګڼه

www.Maseerdaily.af   twitter/MaseerDaily   Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۳ | ۳۷ | ۳۲ | ۳۶ | ۳۲ |
| ۱۹ | ۱۷ | ۲۰ | ۲۱ | ۲٤ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۹ | لمر ختل ۰۵:۲۵ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازدیګر ۰۳:۳۲ | ماښام ۰٦:۲۲ | ماخوستن ۰۷:۵۰

## نړۍ




## اگر به اقوام دو طرف خط فرضي دیورند توجه نشود، این ساحات به گارنیزیون داعش مبدل می گردد




رئیس اتحادیه سرتاسری قبایل می گوید که اگر به اقوام دو طرف خط دیورند توجه نشود، نه تنها در افغانستان صلح پایدار تأمین نمی شود، بلکه این ساحات «به گارنیزیون داعش» مبدل می گردد.

در سال ۱۳۲۸هجری، سران پشتون‌های دو طرف خط دیورند و مقام‌های بلندپایه دولت افغانستان، در یک نشست؛ نهم سنبله را روز همبستگی پشتون‌ها و بلوچ‌ها نامگذاری کرد و تا حال از آن تجلیل می‌شود.

دیروز مراسمی به اشتراک ده ها تن از بزرگان پشتون‌ها و بلوچ‌ها از افغانستان و آن طرف خط دیورند، به مناسبت روز یادشده در مهمانخانهٔ وزارت سرحدات و قبایل در کابل برگزار شده بود.

زرجان شینواری رئیس اتحادیه سرتاسری قبایل در این مراسم گفت: «اگر به اقوام ما در دو طرف خط دیورند توجه نشود، نه تنها که در افغانستان صلح پایدار نخواهد آمد، بلکه این ساحات به گارنیزیون بزرگ داعش مبدل خواهد شد».


او ضمن انتقاد بر کمرنگ شدن تجلیل از روز همبستگی پشتون‌ها و بلوچ‌ها، خطاب به رئیس جمهور افغانستان گفت که اگر به وزارت سرحدات و قبایل توجه نکند، دامن جنگ از قبایل و سرحدات برچیده نمی شود.

همچنان او گُفت: «تا که لوی افغانستان به پا ایستاده نشود، صلح آمدنی نیست».

موصوف بر برگزاری انتخابات ریاست جمهوری افغانستان تأکید کرد و گفت که هزاران جوان افغان، آماده اند که از خاک شان دفاع کنند.

وی از سازمان ملل متحد و نهادهای حقوق بشری خواست تا به صدای میلیون‌ها انسانی گوش دهند که در دو طرف خط دیورند زندگی می‌کنند، زندگی آنها به خطر مواجه است و همه روزه کشته و زندانی می شوند.

## ټرمپ: واشنګټن د ایران د فضايي راکټ په چاودنه کې لاس نه لري



د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې واشنګټن د ایران د فضايي راکټ په چاودنه کې لاس نه لري.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران فضايي راکټ وړمه ورځ د امام خمیني له فضايي مرکزه د الوتو لپاره چمتو شوی و، خو ځای پر ځای یې انفجار وکړ.

ټرمپ له دې پېښې وروسته پر خپل ټوېټر لیکلي: «د امریکا د متحده ایالتونو د سفیر د توغولو لپاره د تیاري په وروستي پړاو کې د پرونۍ ناوړې چاودنې سره تړاو نه لري».

ټرمپ په یوه بل ټوېټ کې لیکلي: «زه ایران ته ښه بخت غواړم چې معلومه کړي چې څه شوي دي».

له دې ټوېټ سره یو عکس هم خپور شوی و چې د سټلایټ په مرسته اخیستل شوی و او پکې لیدل کېدل چې یو میزایل ویجاړ شوی او هغه ځای یې هم تخریب کړی چې میزایل ورڅخه توغول شوی و.

دا په داسې حال کې ده چې ویل کېږي د ایران رژیم دربیم ځل هڅه کوله چې سږ کال فضا ته راکټ وتوغوي.

بل لور ته رویټرز د داسې ایراني چارواکو په حواله چې نومونه یې پټ ساتل شوي، د پنجشنبې په ورځ ویلي چې د تخنیکي ستونزو له امله یې راکټ چاودنه کړې او پر دې نه دی توانېدلی چې فضا ته وتوغول شي.

## په هند کې په یوه فابریکه کې چاودنې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې



هندي رسنیو راپور ورکړی چې د دغه هېواد د ماهراشترا ایالت په واقادي سیمه کې د کیمیاوي توکو په یوه فابریکه د چاودنې له کبله ۲۰ تنه وژل شوي او تر ۵۰ نور ټپیان دي.

د دغه هېواد د زي نیوز په نوم شبکې ویلي، چې لاهم ۷۰ تنه په فابریکه کې د ننه بند پاتې دي او ښایي د مرګ ژوبلې شمېره له دې هم لوړه شي.

خو د دغه هېواد چارواکو ویلي چې سیمې ته ژغورونکې ډلې او مرستدوی بنسټونه رسېدلي او ډېر ژر به پاتې کسان را وباسي.

بل لور ته د سیمې اوسېدونکو هم ویلي چې دغه چاودنه دومره زوروره وه چې د شاوخوا خلکو د کورونو ښیښې یې هم ماتې کړې دي او خلکو ته پکې مالي او ځاني زیانونه هم اوښتي دي.


چارواکو ویلي چې په دې فابریکه کې تر ۱۰۰ زیاتو کسانو کار کاوه، چې ډېری یې وژل شوي او یا هم ټپیان دي. د دوی په خبره، په دې پېښه کې ډېر هغه ماشومان هم ټپیان شوي چې دې فابریکې ته نږدې اوسېدل.

د دوی په خبره، دغه پېښه په فابریکه کې د ګازو د سلنډر د چاودنې له کبله رامنځته شوې ده.

بلخوا د دغه هېواد د روغتیا چارواکو هم ویلي چې د ځینو ټپیانو وضعیت د اندېښنې وړ دی او ښایي مرګ ژوبله له دې هم لوړه شي.

## ژوند

## په نړۍ کې ۳٦ میلیونه کسان پر الزایمر اخته دي




وروستیو څېړنو ثابته کړې چې تور پوستي او لاتیني نژاد لرونکي، د سپین پوستو په پرتله ډېر د الزایمر پر ناروغۍ اخته شوي او اخته کېدای شي. د څېړنو له مخې، دغه توپیر د وینې په لوړ فشار، د شکرې ناروغۍ په درلودو او د ژوند په تګلارې پورې تړلی دی. په امریکا کې هر کال ۲۲٦ میلیونه ډالر پر الزایمر ناروغۍ د اخته کسانو پر پالنه لګېږي، چې ۱۵۴ میلیونه ډالر یې د روغتیایي بیمې له لارې پرې کېږي.

په منځني ډول هغه کسان چې پر دې ناروغۍ اخته شي، له اتو تر لسو کلونو پورې ژوند کولی شي. دا چې دغه ناروغي په ډېرې چټکۍ سره د ودې په حال کې ده، د معلوماتو له مخې تر ۲۰۵۰ ز کال پورې به په ټوله نړۍ کې په هرو ۳۳ ثانیو کې پر الزایمر ناروغۍ د یوه کس د اخته کېدو چانس موجود وي.

د شمېرو له مخې، اوسمهال په ټوله نړۍ کې ۳٦ میلیونه کسان پر دې ناروغۍ اخته دي. دې شمېرو ته په کتو به تر ۲۰۳۰ ز کال پورې ٦٦ میلیونه کسان د دې ناروغۍ په جال کې راګېر شي.

## مه هېروئ چې راتلونکې مو په خپل لاس کې ده



د مثبت بدلون لپاره هېڅکله هم ناوخته نه دی. ډېری وخت موږ د تېر په اړه فکر کوو، په داسې حال کې هغه څه چې له لاسه مو ورکړي، وخت پرې تېر شوی او بیا لاسته نه راځي. د دې پر ځای ښه ده چې د خپلو نوو موخو په اړه فکر وکړو چې کومه موخه مو کولای شي ښه راتلونکې را په برخه کړي. په دې اړه فکر وکړئ چې پاتې عمر مو څه ډول تېر کړی، کومې ستونزې مو په مخ کې دي او څنګه کولای شی ترې د وتلو لاره پیدا کړی او پرې بریالي شی؟ د داسې څه په اړه فکر وکړئ چې څنګه کولای شم خپلې موخې ته یو قدم نور هم نږدې شم؟ یو قدم نن واخلئ او یو هم سبا.

**د ځان خوشالولو لپاره بهانه ولټوئ**

په ژوند کې ډېر واړه شیان هم شته چې تاسو خوشالولی شي. لږ تر لږه د ورځې یوازې دری دقیقې وخت مو د ځان لپاره په پام کې ونیسئ. کتاب، فلم او یا همداسې یوه موضوع چې تاسو خوشالولای شي، ځان پرې خوشاله کړئ. دغه تجربه خورا بریالۍ ده، ډېرو خلکو کارولې ده او ښه پایله یې ورکړې ده.